داکتر بشير دوديال ۲۰۱۸/۱۲/۰۳

# د جي شل وروستۍ غونډه (کنفرانس)
# ولې د ډيرو خلکو لپاره ډير له هيلو ډکه نه وه؟

G۲۰ د شلو لويو صنعتی هيوادو هغه گروپ دی چې نه يوائې دا چې د نړۍ اوسنی اقتصادی بهير، د مالی بازارونو ثبات، بيو، دلويو پانگو په ترسره کولو ،نړيوال صنعتی توليداو داسعارو په بيو او سوداگری باندې تاثيرلري، بلکې دبشريت دژوند پرچاپيريال، د وروسته پاتې (پرمختيايي) هيوادو د خامو توکو په بيو او ډيرو نورو برخو هم اغيز لري.
دغه ډله (گروپ) وروسته د ساړه جنگ څخه، هغه وخت چې نړۍ يوقطبی شوه( وروسته تر دې يې يو قطبی والی تر شک لاندی ده !)، مشهوره شوه.

د دې گروپ الهام او شروع اصلاً له G۸ يا G۷څخه وشوه. نو G۷څوک وو؟



G۷ يا د نړۍ اووه ستر صنعتي هېوادونه چې يو مهال روسيه هم ورسره يو ځای شوه او په G۸ ونومول شول، د شلمي پيړۍ له نيمايي وروسته په نړۍ کې د اقتصادي فعاليتونو د پراختيا په لټه کې وو، يعني په پيل کې دا يو فکر و. په شروع (۱۹۸۶) کې په دې گروپ کې پنځه هيوادونه وو (د امريکي متحده ايالات،جاپان، فرانسه، آلمان او انگلستان). وروسته کاناډا ، ايټاليا او روسيه هم ورسره يوځای شوه. د اوکراين له پيښي وروسته روسيه بيرته له G۸څخه ووته، خو په G۲۰ کې غړيتوب لري. د دوی يو بل تازه اقدام په ۱۹۹۹م کې داو چې د شلو هېوادونو په کډون يو گروپ (Group of ۲۰) جوړ کړي، نو ځکه يې د پام وړ شلو هېوادونو د مالي وزيران راوبلل او د دغه

ګروپ بنسټ کېښودل شو، چې په دغه ګروپ کې له پیله ارجنټاین ، استرلیا ، برازیل ، کاناډا ، چین ، هندوستان ، اندونیزیا ، ایټالیا ، جاپان ، مکسیکو، روسیه، جنوبي کوریا، ترکیه ، بریتانیا ، دامریکې متحده ایالات او اروپایي اتحادیه شامل دي.




په حقیقت کې د شلمې پیړۍ تر پای پورې لوی صنعتي هېوادونه همدا وو چې غوښتل یې چې نړیوال اقتصادي ثبات ټینګ او خپل منځ کې روابط لا پیاوړي کړي. د جي شل په غونډو کې دغړو هیوادونو د مالیې وزیران او د مرکزی بانکونو رییسان برخه اخلي. په تازه دوه ورځني کنفرانس کې چې بوینس آیرس کې جوړ شوی و، د غړو هیوادو ډیرو مشرانو هم ګډون وکړ. د دوی بالمقابل د ۷۷ډله د نړۍ وروسته پاتې هیوادونه وو. د سړې جګړې پر مهال څه ناڅه وضعیت ښه و، یوه بلاک ( د سوسیالیستی هیوادو بلاک) له زیاترو نویو خپلواک شویو او بیوزلو هیوادو سره مرسته کوله او بل بلاک ( ناټو) هم له نوروګڼ شمیر هیوادو سره مرسته کوله، د ساړه جنګ له پای ته رسیدو وروسته دغه نسبی توازون ګډوډ شو او د چاپیرال او ورپسې د تروریزم ستونزی چې د بشریت مشترکه ستونزه او جهانشموله تشویش دی، زیات شو.دصربستان، لواندا، یمن، سوډان،شمالی او جنوبی کوریاګانو، سوریې، عراق، مصراو دې ته ورته منطقوی ستونزو نورهم نړیوال اندیښنه کې کړل.




دا وخت امریکی ګواښ کړی چې د پاریس له تړون څخه به وځي(دغه تړون د خوندی چاپیرال ساتنی او د صنعتی هیوادو له خوا د ککړتیا پرابلم سره د مسئولانه چلند په هکله و)، له بلې خوا یې یو شمیر هیوادوسره مرستې کمې کړی او په یوشمیر نورو یې اقتصادی بندیزونه ولګول.

توقع دا وه چې د دوی دغه غونډه(کنفرانس) به  په همدې مسایلو او په نړیوال اقتصادی ثبات بحث وکړی، خو د دغو بحثونوپر ځای  زیاتره نظامی او سیاسی مسایل اجندا ته ورولویدل. یو شمیر داسې مسایل چې دمعمول برخلاف و لکه د خاشقچي دوژني موضوع، د روسيي له خوا د روسيي په اوبو کې داوکراینی دریو بیړیو نیول کیدو او د یمن پیښنو په دې کنفرانس کې اقتصادی او صنعتی بحثونه تر سیوری لاندی راوستل  او حاشیوی بحثونه ټول سیاسی وو، نه اقتصادی او صنعتی.  آن دا چې د کنفرانس پریکړه لیک کی یې ستونزی پیدا کړی. دوی ته به دغه ډول اجندا مهمه وه، خو د دغې غونډې دایریدو دنړۍ نورو هیوادو ته صرف د یوه خبر تربریده ارزښت درلود او بس  !

کنفرانس پریکړه وکړه چې راتلونکی کال (۲۰۱۹) کې به د دې گروپ( G۲۰) بل کنفرانس په جاپان کې دایر شی، هیله ده راتلونکی کنفرانس د چاپیریال ساتنی په هکله هم ښه تصامیم ولري او د نړۍ د اقتصاد ثبات او صنعتی پروسې د بهبود لپاره ښه زیري ولري. که همداسې وشول، نو د ټولو نړیوالو لپاره به له هیلو ډکه وي.



تذکر:

هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این نویسنده را مطالعه کنند، می توانند با اجرای "کلیک" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به فهرست "آرشیف" شان رهنمائی شوند!

د جي شل وروستۍ غونډه (کنفرانس)

Dodiwaal_m_bashir_de_g۴۰_wrostaaanai_ghonda.pdf